مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۰۳

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (نهه نویمه برخه)

**امیر الدین شنسب**

د شمس الدین زوی په ۱۸۹۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې په حبیبیه کې کړي دي او یو له هغو لومړنیو زده کوونکو څخه وو چې د زده کړو لپاره له هېواده دباندې واستول سو. په ۱۹۲۶ز کال کې ئې د برېښنا په انجنیرۍ/ الکتریکل انجنیرینګ کې خپل سند د جرمني له کارلسبرګ څخه واخیست. د برلین په زیمنس کې پروجکټ منیجر. د امیر امان الله خان د واکمنی له پرځېدلو لږ مخکې افغانستان ته راستون سو او د امان الله خان لپاره ئې جګړه وکړه. ورپسې له افغانستانه ووت او جرمني ته راغی او بیا ئې په زیمنس کې کار پیل کړ. بېرته افغانستان ته راستون سو او د برېښنا د تولید د بنټیو د جوړولو په چارو کې ئې ګټور کارونه وکړل. په ۱۹۴۳ز کال کې ئې په کندهار کې د بابا ولي د برېښنا د تولید د هایدرو الکتریک بټۍ جوړه کړله. د نساجي له نوي جوړې سوې کمپنی سره ئې کار پیل کړ او په ۱۹۳۶ز کال کې پلخمري ته لاړ چې د نساجي فابریکه او د برېښنا د تولید بټۍ جوړه کړي. د ۶۰۰ کورېز نوي ښارګوټي د جوړولو د چارو مشري ئې وکړه. په ۱۹۴۹ز کال کې د ولسي جرګې کې په ټاکنو کې ئې ځان کاندید کړ (خو غبار او محمودي ته ئې بایلوله). د ۱۹۴۹ز کال د نوامبر په میاشت کې د کرنې د وزیر په توګه مقرر سو او یو کال وروسته ئې استعفی وکړه. ویل کېږي چې د پلورلیزم پر بنسټ دداسې سیاسي سیستم د رامنځته کېدلو پلوی وو چې فردي آزادی او بشري حقوق تضمین کړي. په ۱۹۵۵ز کال کې د نساجي فابریکې رئیس او په ۱۹۵۹ز کال کې د ګلبهار د فابریکې د جوړولو مسؤول. متقاعد.

**بدرالدین شرفي**

د بخارا په یوې (وزبیکې) کورنۍ پورې اړه لري. په کابل او د امریکا په متحده ایالاتو کې ئې تحصیلات کړي دي. د «افغان پطرول» [1] رئیس. په ۱۹۷۹ز کال کې ونیول سو او ووژل سو. مورنۍ ژبه ئې وزبیکي وه.

**سید عبدالحکیم شرعي** : وګړۍ : جوزجاني

[1] -Afghan Petrol


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## ډاکټر عبدالرحیم شریف

د سردار محمد عثمان خان زوی په ۱۹۰۹ز کال کې په کویټه کې زېږېدلی دئ؛ ورور ئـې جنرال محمد قاسم شریف نومېږي. تحصیلات ئـې د برلین په پوهنتون کې د برلین د حفظ الصحې په انستیتیوت کې وکړل او په ۱۹۳۸ز کال کې ئـې د طب د ډاکټرۍ .M.D سند تر لاسه کړ. له ۱۹۴۰ تر ۱۹۴۲ز کال پورې د دهمزنګ د زندان ډاکټر. له ۱۹۴۲ تر ۱۹۴۷ز کال پورې د مزار شریف د روغتون مشر. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۵۲ز کال پورې د ملاریا د کنټرول د ریاست رئیس. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د معارف د وزارت د روغتون مشر طبي افسر. په ۱۹۵۶ز کال کې د روغتیا د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۶۳ز کال کې د روغتیا وزیر. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د جاپان سفیر. په ۱۹۶۷ز کال کې د کندهار والي. د اکاډیمیکو آثار مؤلف. وادهٔ ئـې کړی دئ او دوه زامن او درې لونې لري. په ۱۹۸۶ز کال کې په کابل کې وفات سو.

## جُـنـَـیـد شریف

په ۱۹۴۸ز کال کې په پروان کې زېږېدلی دئ. په غزني کې له دولسم ټولګي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کې بیروت ته او هلته ئـې په ټولنپېژندنې یا سوسیولوژي، فلسفې او تأریخ کې تحصیل وکړ او په ۱۹۷۱ز کال فارغ سو. په لبنان کې ئـې د (دریمي نړۍ د مخ په ودو ستونزو)[2] په هکله یوه څـېړنیزه رساله خپره کړه. د بیروت د امریکایي پوهنتون د محصلینو د ورځپاڼې محرر. افغانستان ته له راستـنـېدلو وروسته ئـې د کابل په پوهنتون کې د سوسیولوژۍ او فلسفې تدریس وکړ. خپلې لیکنې ئـې ورځپاڼو او مجلو ته په پښتو او دري ژبو لـېږلې او خپرېدلې. په ۱۹۷۶ز کال کې ئـې خپل اثر (د افغانستان د مډل د سیاسي پرمختګ ستونزو ته یوه لنډه کتنه) [3] خپور کړ.

## جنرال مـحـمـد قاسم شریف

د سردار محمد عثمان زوی. د اردو جنرال. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د ایتالیا سفیر؛ له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د سعودي عربستان سفیر. د نصرت الله ملکیار خسر. په کابل کې ۱۹۸۶ اوسېږي.

## شریفه شریف

په ۱۹۵۳ز کال کې زابل ته نـېږدې په قلات کندهار کې زېږېدلې ده. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د زرغونې لیسې ته تللې ده. له ۱۹۷۲تر ۱۹۷۶ز کال پورې ئـې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي د پښتو په دیپارتمنت کې تحصیل کړی دئ. له فراغت وروسته د پښتو اکاډیمۍ غړې سوه. بېلابېلو خپرونو ته ئـې خپل لنډ داستانونه او رسالې لـېږلي دي.

[2] -Developmental Problems of Third World

[3] -An Overview of Political Development Problems on the Example of Afghanistan, 1976



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## محمد ابراهیم شریفي

په ۱۹۱۵ز کال کي په کويټي کي زېږېدلی دئ. د کويټي د «سنديمن په ليسي»[4] کي او د لاهور د «فورمن کرسچين کالج»[5] کي او د کويټي د استوګن کيدلو د روزني په ښوونځي»[6] کي تحصيلات کړي دي. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۸ز کال پورې د معارف د وزارت ژباړونکی. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۲ز کال پوري د باندنيو فرهنګي اړيکو عمومي مدير. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د معارف د وزارت د وزير سکرتر. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کي د راډيو او فلم د سانسور، د مطبوعاتو او نشراتو مشر. په ۱۹۷۳ز کال کي ئـي له دولتي کارونو څخه لاس واخيست. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د راډيو افغانستان د انګليسي پروګرام مشر. د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کي د معلوماتو عمومي مدير. د ګڼ شمېر آثارو مؤلف. مورنۍ ژبه ئـي پښتو ده.

## ډاکټر محمد حسن شرق

په ۱۹۲۵ز کال کي په فراه کي زېږېدلی دئ. حربي ښوونځي ته او بيا د کابل پوهنتون د طب پوهنځي ته تللی دئ. په څو روغتونونو کي د طب ډاکټر. د برېښنا د يوې کمپنۍ لپاره د صحي بيمي مدير. د ۱۹۴۸ او ۱۹۵۹ز کلونو تر منځ ئـي د کابل پوهنتو د محصلينو د خوځښت په منځ کي د محمد داؤود ملاتړ کاوۀ. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د صدارت عظمی د سکرتريت مشر. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۷۳ز کال پورې ئـي د طب په ډګر کي کار وکړ. په ۱۹۷۳ز کال کي لومړی مرستيال صدر اعظم. د ولسمشر داؤود د مرکزي کمېټي غړی. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د جاپان سفير. د ۱۹۸۰ز کال د مې په مياشت کي د هندوستان سفير. وادۀ ئـي کړی دئ.

## قاري شرف الدين شرق

د «داملن بيدل» [7] په نوم شهرت لري.د مير زاهد زوی په ۱۸۷۳ز کال کي په تاشکند کي زېږېدلی دئ. زده کړې ئـي په تاشکند او بخارا کي تر سره کړي دي. په ۱۹۳۲ز کال کي افغانستان ته راغی او په ۱۹۴۳ز کال کي په کابل کي وفات سو. اسلامي عالم او په ترکي او دري ژبو کي شاعر.

## محمد هاشم شايق «افندي»

د شايق افندي په نوم شهرت لري. د ملا محمديعقوب مخلص زوی په ۱۸۸۶ز کال کي په فرغاني کي زېږېدلی دئ. لومړی بخارا ته لاړ او له هغـۀ ځايه په ۱۹۱۱ز کال کي ترکيي ته د نورو تحصيلاتو لپاره لاړ. بېرته بخارا ته راستون سو او له سياسي اړخه د «ځوانو بخارايانو» [8]په منځ کي فعال وو. په ۱۹۲۰ز کال کي د بخارا د جمهوريت د معارف وزير سو. په ۱۹۲۱ز کال کي په کابل کي د بخارا د جمهوريت ځانګړی استازی/ ايلچي. له خپلي دندي ئـي استعفی وکړه او د افغانستان تابعيت ئـي قبول کړ. د سردار عزيزالله قتيل له لور سره ئـي وادۀ وکړ. په ۱۹۲۳ز کال کي د معارف د وزارت د څېړني په رياست کي په کار وګومارل سو. د لسو کالو لپاره د «مجلـۀ عين عرفان» محرر وو. د

[4] -Sandemen High School Quetta
[5] -Forman Christian College, Lahore
[6] -Settlement Training School Quetta
[7] -Damelan Bedel
[8] -Young Bukharis


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

معارف د وزارت د څېړني د رياست رئيس. د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي استاد. له سياسي اړخه په افغانستان کي فعال نـهٔ وو. ليکوال. په ۱۹۵۴ز کال کي وفات سو.

### خان محمد شلگری

د غزني بومي اوسېدونکی. اسلامي شريعت ئي په مصر کي ولوست. د کابل پوهنتون د شرعياتو د پوهنځي د اسلامي قوانينو استاد.

### دوست محمد شينواری

د سيد عمر زوی په ۱۹۳۵ز کال کي د ننگرهار په هسکي ميني / ده بالا کي زېږېدلی دئ. زده کړې ئي په خصوصي ډول په کوهاټ، مردان، پېښور او اشنغر کي کړي دي. په ۱۹۴۵ز کال کي د حميديه په مدرسي کي شامل سو او په ۱۹۵۹ز کال کي له دارالعلوم عربي څخه فارغ سو. لوړ تحصيلات ئي په شوروي اتحاد کي تر لاسه کړل. د انيس د پښتو څانگي محرر. ليکوال او شاعر.

### شير احمد خان زکريا : وگورئ : زکريا

### ډاکټر شير آقا

د ۱۹۷۸ز کال د مي په مياشت کي د کابل ښاروال.

## نور بيا

### شير محمد «صوفي صاحب» پير اکرم

د ترين له قبيلي څخه دئ او په کندهار کي زېږېدلی دئ. په کابل کي...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ